Migration and Refugee Services
Renewing Hope. Seeking Justice.
UNITED STATES CONFERENCE OF CATHOLIC BISHOPS

# په موقتي ډول مصؤن شوی وضعيت (TPS)
## د غوښتنليک پروسه

## 1 ګام

### د TPS غوښتنليک ثبت کړئ

**د هر متقاضي لپاره اړين اسناد:**

- I-821 فورم، د موقتي مصؤنيت د شرايطو لپاره غوښتنه
- I-765 فورم، د کار د اجازې لپاره غوښتنه
- 912 فورم، د معافيت لپاره غوښتنه, لکه څنګه چې د تطبيق وړ وي.. که چېرې تاسو د خپل ټيټو عائداتو يا ځانګړيو امتيازاتو لپاره سند وړاندې کړئ، نو اړ نه ياست چې د ثبتولو فيس تاديه کړئ.
- د هر متقاضي د پاسپورټ-اندازه دوه قطعې عکسونه
- د هويت او افغان تابعيت د تثبيت لپاره د سند وړاندې کول*
- د امريکا متحده ايالاتو ته د داخليدو سند (I-94، د بشردوستانو ويزو ټاپه)

*مثلا: پاسپورټ، د زېږون سند، عکس لرونکی د هويت سند يا د هويت داسې سند چې د عکس/ګوتې د نښې درلودونکی وي

**مثلا: د دندې يا استخدام سوابق يا کاري سابقه، د کرايې رسيد، د صرفيې بېلونه، ماليات، د ښوونځي سوابق، طبي سوابق، او داسې نور.

**د ثبت فيس:**

- I-821-اپه هر متقاضي 50$
- I-765-اد هر هغه متقاضي په سر 410$ دالر چې عمرونه يې له 14-65 کلونو پورې وي
- د هر هغه متقاضي چې عمر يې تر 14 ډېر وي، د 85$ په اندازه د بايومتريک فيس

**د پوسټ له لارې غوښتنليک ثبت کړئ**

## 2 ګام

### د غوښتنليک رسيد او د بايومتريک خبرتيا

USCIS کله چې غوښتنليک ترلاسه او بياکتنه وکړي د رسيد خبرتيا ليږي که چېرې تاسو له ثبت وروسته په 3 اونيو کې خبرتيا نه ترلاسه کوئ، USCIS ته په لاندې شمېره زنګ ووهئ:

1-800-375-5283

**د پوسټ له لارې يې ترلاسه کړئ**

## 3 ګام

### د USCIS د غوښتنليکونو د ملاتړ مرکز (ASC)

تاسو ته به د بايومتريک پروسې ترسره کولو په موخه يوه خبرتيا يا ملاقات ترتيب شي. تاسو بايد د USCIS د غوښتنليکونو د ملاتړ مرکز ته د بايومتريک په موخه د لاندې اسنادو سره مراجعه وکړئ:

1. د تابعيت + هويت سند (لکه پاسپورټ)
2. د بايومتريک خبرتيا
3. د موجوديت په صورت کې اوسنی EAD

**په حضوري ډول**

## 4 ګام

### د USCIS قضاوت

تاسو به د خپل TPS غوښتنليک په اړه د USCIS پرېکړه د پوسټ له لارې ترلاسه کړئ.

**د پوسټ له لارې يې ترلاسه کړئ**